# د پښتو لیک لارښود

ترتیبوونکی : عبدالعلي رسول زاده

بسم الله الرحمن الرحيم

# د پښتو ژبې د ليک لارښود

د ګران هيواد افغانستان په ښوونځيو کې د پښتو ژبې د تدريس په څنګ کې د پښتو ليک زدکړې ځانګړې ساعتونه درلوده. په ځينو ښوونځيو کې به د ښکلي ليک د زدکړې لپاره ځانګړو ښوونکو کار کاوه چې هغو ته به يې مشاق صاحب ويل. مګر په زيات شمېر ښوونځيو کې به بيا دغه امکانات نه ول او يو عادي ښوونکي به دغه کار مخته وړئ. پدې صورت کې به نو د ليک د زدکړې په برخه کې د ښوونځيو تر منځ زيات توپير ليده کېده.

دلته په سويډن کې چې د پښتو ژبې تدريس کيږي د يوې خوا وخت لږ دئ او د بلې خوا هغه لږ وخت د ژبې، کلتور او ليک د زدکړې لپاره دئ يعني وخت کفايت نه کوي.

د ۱۹۸۳ ميلادي کال راهيسې ما د سويډن په هيواد کې پښتو ژبو زدکوونکو ته د پښتو ژبې تدريس کړی دئ. د ټولو دغو کلونو په جريان کې مې غوښتي دي چې زدکوونکو ته ښکلی ليک ليکل هم ور زده کړم. د دې کار لپاره مې کوښښ کړی دئ چې که د نورو مشاقانو د کار نمونې او لارښودنې پيدا کړم او په کار يې واچوم. د يوې خوا مې داسې مواد لاس ته نه دي راغلي او د بلې خوا دا چې زما زدکوونکو د سويډني ژبې د ليک سره عادت نيولی دئ. هغوی ټول توري پر ليکه نښتې ليکي ځکه نو ما د ښکلي ليک د زدکړې لپاره يو ترتيب په نظر کې و نيوی څو زما زدکوونکې پښتو ليک هم د سويډني تورو په ډول پر ليکه نښتې و ليکي. دا ترتيب چې ما د څو کلونو په جريان کې په کار اچولی دئ ډېره ښه نتيجه مې په لاس راوړې ده. اوس غواړم چې دغه کار د وړانديز په توګه د کاغذ پر مخ و ليکم. هغه ګران همکاران او والدين چې غواړي ګټه ترې واخلي کولی سي چې خپل نظر ما ته راکړي څو دا کار تر دې لا نور ښه او پر مخ تللئ د ټولو د پاره د ګټې اخيستلو وړ و ګرزي.

تر مخه مې را په ګوته کړه چې ما د يو دغسې کار د لاسته راوړلو لپاره هلې ځلې کړې دي خو کوم څه مې په لاس نه دي راوړي. که چيرې دغه کار تر ما د مخه چا کړی وي د هغو څخه زما د ناخبری له امله بخښنه غواړم او ډېره مننه ترې کوم.

د پښتو توري او ليک د ليکلو په وخت کې ډېر ډولونه لري. خو که په لومړي سر کې کوښښ و سي چې زدکوونکو ته دغه يو ډول ور و ښودل سي نو کله چې يې دغه توري په ښه ډول زده کړه بيا نو کولای سو چې نور ډولونه يې هم ور و ښيو.

د ليکلو په وخت کې دې زدکوونکو ته لار ښوونه وسي چې تل د پښتو توري کيڼې خوا ته لږ کاږه و ليکي.

که څه هم د الفبې دغه توري به د کيفيت په لحاظ ښکلي نه وي، خو په راتلونکې کې به زه کوښښ و کړم چې تر دې ښه شي.

د ليکلو ترتيب : لومړی زدکوونکي ته د توري نوم اخيستل کيږي . وروسته يې ږغ يا اواز ور ښودل کيږي . د مثال په توګه به د (ت) توری را واخلو :

نــوم يې (تې) دئ او ږغ يــا اواز يــې(ت) دئ . اوس نـو زده کوونکی دغه منځ خالي (ت) رنګه کوي او زده کوي چي تر څنګ د رسم نوم يې په نومړي توري پيل کيږي . وروسته تر هغه ټولي ( ت) ګاني د هري(ت) تر څنګ په هغه ډول پر خط يا کرښه باندي ليکي . په پای کي هغه رسم چي ور کول سوی دئ په رنګه قلمانو رنګه کوي .

اميد لرم سربېره پر دې چي که د دغي الفبې د تورو جنسيت(Quality) ښه نه وي بيا هم ستاسي د کوچنيانو د زدکړي لپاره ګټوره وي . زه به په راتلونکې کي کوښښ و کړم د تورو جنسيت او د نورو تمرينونو پاڼي هم جوړي کړم . غوښتنه مي دا ده چي کله کله د پښتو دغه د انټرنيټ پاڼه ګوری چي نوي توري او تمرينونه پکښې و مومئ .

د الفبې توري به په کراره کراره يو په بل پسې په پاڼه کي کښېښودل سي . پاڼه تعقيبوئ کله کله نوي اصلاحات پکښې راځي چي هغه د لاسه ور نه کړئ .

په پښتو ژبه کي يو شمېر عربي کلمې هم سته ، موږ د هغو کلمو د سمو ليکلو لپاره اړتيا لرو چي په خپله الفبې کي د عربي ژبې هغه خاص 10 توري هم را ولو . د عربي ژبې هغه خاص توري دلته لاندي په سره رنګ ليکل سوي دي :

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ ځ څ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش
ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ه (ه ، ـه)
ي ی ې ۍ ئ

د الفبې د هر توري د ښودلو لپاره اړتيا ده چي داسي نومونه ور ته را وړل سي کوم چي په سر کي ئې هغه توری را غلی وي . د عربي د دغو لسو تورو لپاره مجبور يو چي يوه عربي کلمه غوره کړو .

ستاسي نظريو او انتقادونو ته سترګي پر لاره يم .

په درناوي
عبدالعلي رسولزاده
د مالمو ښار سويډن
www.pashto.se
alirasulzada@hotmail.com
موبيل
0046-709384755

# ا آ

لاربنود :

الف ( ا ) درې ډوله ليکل کيږي او هر وخت پر ليکه ( خط ) د لوړي خوا څخه په دې ډول ليکل کيږي :


**۱ ـ يوازې :** ( الف ) چې يوازې وي د لوړ څخه را ښکته پيل کيږي او ليکي ته چې راورسيږي ، ختميږي لکه :

**۲ ـ د کلمې په پای کې :** د کلمې په پای کې د ( د ، ډ ، ذ ، ر ، ړ ، ز ، ږ ، ژ او و ) سره نښتي نه راځي د نورو تورو سره نښتي لکه :

**۳ ـ الف چې مد ( آ ) ئې پر سر وي تل د کلمې په سر کې را ځي لکه :**

ښوونکي او ميندې او پلرونه دې زدکوونکو ته و ګوري او لار ښودنه دې ور ته و کړي چې الف د کښتې خوا څخه و نه ليکي . ځکه ځينې زدکوونکي هر چيرې چې ئې زړه وي هلته توري پيل کوي . د مثال په توګه ( الف ) د کتابچې د ليکې ( خط ) څخه لوړې خوا ته ليکي . چې هغه نو بيا ښکلې نه راځي .


د مشق او تمرين لپاره د دوهمې پاڼې څخه کار واخلئ !



آ

آ
آ
آ
آ
آ
آ
آ
آ
آ
آ
آ

آس



ا

ا

ا

ا

ا

ا

ا

ا

ا

ا

ا

ا

انګور

# ب پ ت ټ ث

لاربنود :

ب ، پ ، ت ، ټ او ث : په کلمو کي په ۴ ځايو کي ليکل کيږي لکه :

۱ـ يوازي : په کلمه کي په يوازي ډول او پر خط باندي نښتي ليکل کيږي لکه :

ب پ ت ټ ث

۲ـ د کلمې په سر کي : د کلمې په سر کي د ليکي پر سر د ليکي سره نښتي ليکل کيږي لکه :

بـ پـ تـ ټـ ثـ

۳ـ د کلمې په منځ کي : د کلمې په منځ کي هم پر ليکه نښتي ليکل کيږي لکه :


ـبـ ـپـ ـتـ ـټـ ـثـ

۴ـ د کلمې په پاي کي نښتي : دا توري د کلمې په پای کي د کوم بل توري سره نښتي پر ليکه نښتي ليکل کيږي لکه :

ـب ـپ ـت ـټ ـث

پام و کړئ چي چي زده کوونکي مو ب ... د کيڼي خوا شروع نه کړي .

د مشق او تمرين لپاره د را تلونکي پاڼي څخه کار واخلئ او و ګورئ چي زدکوونکي ئې د ښۍ خوا څخه و ليکي نه د کيڼي خوا څخه .



# ب

ب

ب

ب

ب

ب

ب

ب


ب

ب

ب

ب

بانجڼ



# پ

پ

پ

پ

پ

پ

پ

پ

پ


پ

پ

پ

پشي ( پشو )

ت



ت

ت

ت

ت

ت

ت

ت


ت

ت

ت

ت

تبر



# ټ

ټ

ټ

ټ

ټ

ټ

ټ

ټ


ټ

ټ

ټ

ټ

ټال



ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثــ

ثمــر

# ج چ ح خ څ ځ

## لار ښود :


ج ، چ ، ح ، خ ، څ او ځ : په کلمه کي پر ۴ ځايه ليکل کيږي لکه :

۱ ـ يوازي : د ليکي څخه پيل کيږي لږ څه لوړ ځي ، بيا ښيـ خوا ته د ليکي سره موازي ځي څو بيرته ليکی ته را و ګرځي ليکه قطع کړي او تر ليکي کښته دوام پيدا کړي لکه : ج چ ح خ څ ځ

۲ ـ د کلمې په سر کي : دا توري د ليکي د سر څخه پيل کيږي يو څه پورته ځي بيا لږ څه مايل ښيـ خوا ته ځي څو ليکي ته و رسيږي او بيا پر ليکه کيڼي خوا ته دوام پيدا کوي تر څو د يوه بل توري سره و نښلي لکه : جـ چـ حـ خـ څـ ځـ

۳ ـ د کلمې په منځ کي : د ليکي څخه پيل کيږي ، لږ لوړه ځي او بيا بيرته پر ښيـ خوا ليکي ته ځان رسوي هلته د يوه بل توري سره نښلي او بيرته کيڼي خوا ته دوام کوي تر څو د يوه بل توري سره و نښلي لکه : ـجـ ـچـ ـحـ ـخـ ـڅـ ـځـ

۴ ـ د کلمې په پای کي د بلي کلمې سره نښتي : د کلمې په پای کي چي تر مخه يې يو بل توري ور سره نښتي وي . د ليکي څخه پيل کيږي ، لږ څه لوړ ځي وروسته د ليکي سره موازي ځي تر څو د يوه بل توري سره و نښلي لکه : ـج ـچ ـح ـخ ـڅ ـځ



ج

ج

ج

ج

ج

ج

ج

ج

ج

ج


ج

ج

جابه

Ali Rasulzada

ترتیبوونکی : عبدالعلي رسولزاده



# چ

چ

چ

چ

چ

چ

چ

چ

چ

چ

چ

چ


چرګ



# ح

ح
ح
ح
ح
ح
ح
ح
ح
ح
ح
ح

حلوا




# خ

خ
خ
خ
خ
خ
خ
خ
خ
خ
خ
خ
خ


خولۍ

څ



څ
څ
څ
څ
څ
څ
څ
څ
څ
څ
څ
څ

څا



# خ

خ خ خ خ خ خ خ خ خ خ خ

خاله

# د ډ ذ

لارښود :

د ، ډ او ذ ۲ ډوله ليکل کيږي :

۱ ـ يوازي : پر ليکه باندي د ليکي څخه ځه لوړ پيل کيږي ، ښیـ خوا ته ځي تر ځو ليکي ته و رسيږي بيا پر ليکه باندي کيڼي خوا ته په مناسبه اندازه دوام ور کول کيږي لکه :


د ډ ذ

۲ ـ په پای کي د بل توري سره ښښتی : کوښښ وکړئ چي د ښښتي ( د ) دوهمه برخه ځه لوړه را پيل سي ، ليکي ته را و رسيږي او بيرته د ليکي څخه ځه پورته سي لکه :

ـد ـډ ـذ

د مشق او تمرين لپاره د را تلونکي پاڼي څخه کار واخلئ !

د



د

د

د

د

د

د

د


د


د

د

د

دېګ





ډ

ډ

ډ

ډ

ډ

ډ

ډ

ډ


ډ

ډ

ډ

ډول

ذ



ذ

ذ

ذ

ذ

ذ

ذ

ذ

ذ

ذ

ذ

ذ

ذخیره ( د اوبو )

# ر ړ ز ږ ژ

لار ښود :

ر ، ړ ، ز ، ژ او ږ ۲ ډوله ليکل کيږي :


۱ ـ يوازي : د (ر ، ړ ، ز ، ژ او ږ) سر يو څه را کوږ تر ليکي لږ لوړ او نوره برخه ئې تر ليکي کښته په لاندي ډول ليکل کيږي لکه : ر ړ ز ږ ژ

۲ ـ د کلمي په پای کي او د کوم بل توري سره نښتي : په دا ډول ليکل کيږي : د (ر ، ړ ، ز ، ژ او ږ) سر لږ څه تر ليکي لوړ او بيا ښۍ خوا ته لږ کوږوالی لري لکه :

هېر ئې نه کئ چي د (ر ، ړ ، ز ، ژ او ږ) سر بايد هر وخت تر ليکي لږ پورته وي دلته به ئې د نموني په ډول راوړو لکه : ـر ـړ ـز ـږ ـژ

| نا سم | سم |
|---|---|
| ـر | ـر |

د مشق او تمرين لپاره د را تلونکي پاڼي څخه کار واخلئ !



ر

ر

ر

ر

ر

ر

ر

ر


ر

ر

ر

ر

رادیو



# ړ

ړ

ړ

ړ

ړ

ړ

ړ

ړ

ړ

ړ


ړ

ړ

ړوند

Ali Rasulzada

ترتیبوونکی : عبدالعلي رسولزاده



# ز

ز

ز

ز

ز

ز

ز

ز

ز

ز

ز

ز

زمری




ږ

ږ
ږ
ږ
ږ
ږ
ږ
ږ
ږ
ږ
ږ
ږ

ږمنځ

Ali Rasulzada

ترتیبوونکی : عبدالعلي رسول زاده



# ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژ

ژرنده

# س ش ښ

## لارښود :

س ش او ښ په کلمه کې په څلورو ځایو کې را ځي لکه:

۱ ـ یوازې: دغه درې توري د کرښې (لیکې) پر سر د ښۍ خوا څخه لږ څه لوړ پر لیکه را پیل کیږي ، کله چې لیکې ته را و رسیږي پر لیکه باندې کیڼې خوا ته لږ ځي او بیا پور ته ځي. بیرته کښته را ځي څو لیکې ته و رسیږي. اوس بیا لکه چې وینئ ئې بیرته لږ پورته ځي. اوس کښته لیکې ته را ځي او تر لیکې کښته او د هر توري هغه لویه خانه جوړوي. د لویې خانې ورستۍ برخه تر لیکې د یوه ملي متر په اندازه لوړیږي لکه:


س ش ښ

۲ ـ د کلمې په سر کې د بل توري سره نښتې: (س ، ش او ښ) د کلمې په سر کې د لیکې پر سر دا سې لیکل کیږي لکه: سـ شـ ښـ

۳ ـ د کلمې په منځ کې: (س ، ش او ښ) د کلمې په منځ کې د لیکې پر سر په دا سې حال کې چې یو توری ئې تر مخه او بل وروسته ور سره نښتې وي دا سې لیکل کیږي لکه: ـسـ ـشـ ـښـ

۴ـ د کلمې په پای کې چې تر مخه ئې بل توری نښتی وي: (س ، ش او ښ) د کلمې په پای کې د لیکې پر سر دا سې لیکل کیږي لکه:

ـس ـش ـښ



# س

س
س
س
س
س
س
س
س
س
س
س

سپوږمۍ



ش

ش
ش
ش
ش
ش
ش
ش
ش
ش
ش
ش

شونډي



# بن

بن

بن

بن

بن

بن

بن

بن

بن

بن

بن

بن

بنځه

# ص ض

لاربښود :

(ص او ض) په کلمو کي ۴ ډوله ليکل کيږي لکه :

۱ ـ يوازي : (ص او ض) په کلمه کي په يوازي ډول داسي ليکل کيږي چي د ليکي د سر څخه شروع سي په مايل ډول لږ لوړ ښۍ خوا ته ځي بيرته را خميږي څو ليکي ته و رسيږي او وروسته پر ليکه دوام کوي کله چي خپل د شروع ځای ته و رسيږي تر هغه لږ څه تېر سي د ليکي څخه بيرته لږ پورته سي او بيرته تر ليکي را کښته کيږي لکه :

ص ض

۲ ـ د کلمي په سر کي : د کلمي په سر کي داسي ليکل کيږي لکه :

صـ ضـ


۳ ـ د کلمي په منځ کي لکه : ـصـ ـضـ

۴ ـ د کلمي په پای کي منبتي لکه : ـص ـض

د (ص او ض) د ليکلو په وخت کي پام کوئ چي (ص او ض) دغه دوهمه خانه هېره نه کړئ . د مثال په توګه :

| ناسم | سم |
| --- | --- |
| ضـل | ضـل |

د مشق او تمرين لپاره د راتلونکي پاڼي څخه کار واخلئ !



ص

ص
ص
ص
ص
ص
ص
ص
ص
ص
ص
ص

صندق



ض

ض
ض
ض
ض
ض
ض
ض
ض
ض
ض
ض

ضابط

# ط ظ

لارښود نه :


( ط او ظ ) ۴ ډوله لیکل کیږي لکه :


۱ ـ یوازي : ( ط او ظ ) په دا ډول یوازي لیکل کیږي چي لومړی د لیکي د سر څخه پیل کوو ، ښۍ خوا ته یوه اندازه ځو او بیا یې کرار کرار بیرته د لیکي و خوا ته را خموو تر څو لیکي ته را و رسیږي او بیا د لیکي پر سر باندي دوام ور کوو تر څو بیرته د لومړني پیل د ځای سره و نښلي اوس نو د لوړي خوا څخه ئي هغه الف پر لیکو تر څو نښتي ځای ته ئي را و رسیږي لکه : ط

۲ ـ د کلمې په سر کي : ( ط او ظ ) پر لیکه باندي داسي لیکل کیږي چي لومړی د لیکي د سر څخه پیل کوو ، ښۍ خوا ته یوه اندازه ځو او بیا یې کرار کرار بیرته د لیکي و خوا ته را خموو تر څو لیکي ته و رسیږي او بیا د لیکي پر سر باندي دوام ور کوو تر څو د یوه بل توري سره و نښلي لکه : ط

۳ ـ د کلمې په منځ کي : ( ط او ظ ) د کلمې په منځ کي داسي لیکل کیږي چي لومړی د لیکي د سر څخه پیل کوو ، ښۍ خوا ته یوه اندازه ځو او بیا یې کرار کرار بیرته د لیکي و خوا ته را خموو تر څو د یوه بل توري سره و نښلي او بیا د لیکي پر سر باندي دوام ور کوو تر څو د یوه بل توري سره و نښلي لکه : ـطـ

۴ ـ د کلمې په پای کي د بل توري سره نښتي : ( ط ، ظ ) لکه : ـط





ط

ط

ط

ط

ط

ط

ط


ط


ط

ط

ط

طیاره





ظ

ظ

ظ

ظ

ظ

ظ

ظ

ظ

ظ

ظ

ظ

ظاهر

# غ ع

(ع او غ) څلور ډوله ليکل کيږي لکه:

۱ـ چي يوازي را غلي وي: د ع غ سر د کرښي څخه لږ لوړله ښی‍ۍ خوا څخه کيڼي خوا ته د خمېدو په حال کي د ليکي سر ته را ګرځي او د کرښي پر سر ښی‍ۍ خوا ته لږ ځي او بيرته د ج په شان کښته ځي. لکه په پورتني شکل چي ئې وينئ.

۲ـ د کلمې په سر کي چي بيا له کوم بل توري سره ننښلي: د ع او غ سر لکه پورته چي مو د ليکی د کرښي پر سر و ليکئ او بيا پر کرښه باندي لږ کيڼي خوا ته ولاړ سئ څو د يو بل توري سره ننښلېدو ته و رسېږئ لکه: عـ غـ

۳ـ د کلمې په منځ کي چي له دواړو خواوو له نورو تورو سره ننښتي وي: ـعـ او ـغـ چي له دواړو خواوو له نورو تورو سره ننښتي وي دا ډول ليکل کيږي: لومړی له ښی‍ۍ خوا څخه د کرښي پر سر د ع يا غ يوه کرښه را پيل کوو، بيا ع يا غ ور سره ننښلوو او بيا کيڼي خوا ته‌تر بل توري پوري دوام ور کوو لکه: ـعـ ـغـ

۴ـ د کلمې په پای کي چي تر مخ ئې يو بل توری ور سره ننښتی وي: لومړی پر کرښه باندي د ع يا غ هغه برخه را پيل کوو کوم چي له بل توري سره ننښتې وي لکه: ـع ـغ

د تمرين له پاره د لاندي پاڼو څخه کار واخلئ!



ع


ع
ع
ع
ع
ع
ع
ع
ع
ع
ع

عینکي

Ali Rasulzada

ترتیبوونکی : عبدالعلي رسول زاده

غ



غ
غ
غ
غ
غ
غ
غ
غ
غ
غ

غوا

# ف

لاربنود :


ف ۴ ډوله ليکل کيږي لکه :

۱ ـ يوازي : د (ف) سر تر ليکي لږ څه لوړ د ښی خوا څخه کيڼي خوا ته د ليکي سره موازي را پيل کيږي لږ وروسته لوړي خوا ته را پورته او بيرته ښی خوا ته ځي او را کښته کيږي تر څو د پيل د ځای سره و نښلي . بيا نو کښتني خوا ته دوام کوي تر څو چي ليکي ته و رسيږي. تر دي وروسته پر ليکه باندي کيڼي خوا ته دوام کوي او په پای کي ئي وروستۍ برخه را پورته کيږي تر څو د (ف) تر سر لږ کښته پای ته و رسيږي لکه : ف

۲ ـ د کلمې په پيل کي : دا هم د يوائي (ف) په ډول پيل کيږي ، کله چي ليکي ته و رسيږي دوه يا دري ميلي متره وروسته د بل توري سره نښلي لکه : فـ

۳ ـ د کلمې په منځ کي : د کلمې په منځ کي (ف) دا ډول ليکل کيږي لکه : ـفـ

۴ ـ د کلمې په پای کي مښتې : د کلمې په پای کي د لومړۍ قاعدې پـــه خلاف د (ف) سر پر ليکه باندي نښتی راځي لکه : ـــف



# ف

ف

ف

ف

ف

ف

ف

ف

ف

ف

ف

ف

فیل

# ق

لاربنود :


په کلمه کي(ق) هم د يو شمېر نورو تورو په شان په ۴ ځايو کي را ځي .

۱ ـ يوازي: د (ق) سر پر ليکه (کرښه) د ښۍ خوا څخه کيڼي خوا ته ځي او بيرته مخ پر لوړه لکه په شکل کي چي ئي وينئ ښۍ خوا ته ځي او بيرته کښته ليکي ته را ځي. تر ليکي د (ن) په شان بيرته تر ليکي د يو ميلي متر په اندازه لوړيږي لکه: ق

۲ـ د کلمې په سر کي د بل توري سره نښتي: د ليکي (کرښي) څخه د يوازي (ق) په شان لږ لوړ پيل کيږي. بيرته ليکي ته را ځي او پر ليکه د بل توري سره نښلي لکه: قـ

۳ـ د کلمې په منځ کي: د کلمې په منځ کي د ليکي پر سر را پيل کيږي، کله چي ئي د (ق) سر جوړ کړ بيرته د ليکي پر سر د بل توري سره نښلي لکه: ـقـ

۴ـ د کلمې په پاى کي چي تر مخ ئي يو بل توری پوري نښتي وي: يو بل توری د ليکي پر سر ور ته را ځي او ور سره نښلي. وروسته تر دي (ق) د يوازي (ق) په شکل ليکل کيږي لکه: ـق



# ق

ق

ق

ق

ق

ق

ق

ق

ق

ق

ق

ق

قلم

# ک ك ګ

لارښود :

(ک) دوه ډوله دئ لکه (ک، ك): که څه هم د پښتو اوسنۍ ليکنۍ الفبې د عربي څخه جوړه سوې ده او دغه دواړه ( ک او ك) له عربي الفبې څخه پښتو ته را غلي دي ، خو اوس په پښتو ليکنه کې يوازې دغه (ک) کارول کيږي.

د پښتو الفبې کوم توري چې د کمپيوټر له لارې ليکل کيږي په خاصه توګه (ک) ليکل زدکوونکي ئې د (ی) په ډول ليکي او هغه ښکلی او سم نه ښکاري. ښه به دا وي چې پدغو لاندي څو ډولو و ليکل سي :

۱ ـ په يوازي توګه : اصلاً (ک) د دوو برخو څخه جوړ دئ. لومړی ئې تنه ، چې تر کرښې لوړ را پيل کيږي او کله چې کرښې ته را و رسيږي پر کرښه ښښتی کيږي خوا ته ځي او بيرته د کرښې څخه لږ را پورته کيږي لکه : ـــــل. تر دي وروسته ئې هغه د سر کرښه د ښۍ خوا څخه ور ته را کشيږي ـــــک، ګ ته بيا وروسته هغه ګردۍ کړۍ ور ليکل کيږي ـــــګ


۲ ـ د کلمې په پيل کې لکه: د الف او (ل) سره ـــــکا کل د بل (ک) سره دا ډول ښلي ـــــککړ. نورو تورو سره چې کله ښلي ښه به دا وي چې د هر توري د منځني او وروستي حالت څخه کار وا خلو لکه : ـــــکښ کن

۳ ـ د کلمې په منځ کې :(ک او ګ) دواړه د کلمې په منځ کې په لاندو ډولو ليکل کيږي لکه :

ـ چې وروسته توری ئې (الف، ل يا بل ک ، ګ) وي لکه : ـــــکا کل کل ککک

ـ چې وروسته توری ئې کوم بل توری وي لکه : ـــــکم کغ کړ کوکط

۴ ـ د کلمې په پای کې چې مخ ئې کوم بل توری پوري ښښتی وي لکه: ـــــک



# ک

ک

ک

ک

ک

ک

ک

ک

ک


ک

ک

ک

کور

# گ



گ

گ

گ

گ

گ

گ

گ

گ

گ

گ

گ

گل

# ل

لاربنود :

(ل)هم د یو شمېر نورو تورو په شان په کلمه کي په څلورو ځایو کي را ځي لکه:

۱ـ (ل) چي یوازي را غلی وي: (ل) د کرښي د لوړي خوا څخه را پیل کیږي او د الف په شان کرښي ته را رسیږي ، تر کرښي لاندي د (ن) په شان ادامه پیدا کوي لکه:

ل


۲ـ د کلمي په سر کي چي بل توری پوري نښتی وي: د کرښي (لیکي) له لوړي څخه را پیل کیږي ، کله چي کرښي ته را و رسیږي پر لیکه لږ ځي او بیا د بل توري سره نښلي لکه:

لـ

۳ـ (ل) د کلمي په منځ کي: چي هم ئې تر مخ او هم ئې وروسته یو بل توری ور سره نښتی وي .مخنی توری ئې د کرښي پر سر را ځي ، د (ل) سره نښلي او بیا د بل توري سره نښلي لکه:

ـلـ

۴ـ د کلمي په پای کي چي تر مخ ئې کوم بل توری پوري نښتی وي لکه:تر(ل) د مخه توری د کرښي پر سر را ځي او د (ل) سره نښلي .(ل) ئې لکه د یوازي(ل) په شان لیکل کیږي لکه: ـل



ل

ل

ل

ل

ل

ل

ل

ل

ل

ل

ل


ل

لاس

# م

لاربنود :


(م) څلور ډوله ليکل کيږي لکه :


۱ ـ يوازي : (م) يوازي دا ډول ليکل کيږي چي د ليکي څخه پيل ، لږ څه پر ښۍ خوا لوړ ولاړ سي او بيرته د خمېدو په حال کي ليکي ته را و رسيږي پر ليکه کينې خوا ته لږ ځي او تر ليکه کښته راځي لکه : 

۲ ـ د کلمې په سر کي : د کلمې په سر کي د يوازي (م) په خلاف تر ليکي لوړ شروع کيږي کښتي خوا ته را ځي او ښۍ خوا ته خميږي او بيرته پورته کيږي ، کينې خوا ته بيرته ليکي ته را رسيږي او بيا د بل توري سره يو ځای کيږي لکه : 

۳ ـ د کلمې په منځ کي : د کلمې په منځ کي هم لکه د کلمې په سر کي (م) پر ليکه

په دا ډول ليکل کيږي لکه : 

۴ ـ د کلمې په پای کي د بلي کلمې سره نښتي : د مخکني توري دوام کينې خوا ته د (م) د سر سره نښلي او (م) تر ليکي کښته دوام پيدا کوي لکه : 



# م

م

م

م

م

م

م

م

م

م

م

م

موږک

# ن ڼ

لاربنود :


( ن او ڼ ) څلور ډوله ليکل کيږي لکه :

۱ـ ( ن او ڼ ) چي يواځي را غلي وي : د ښي خوا څخه تر ليکي لږ څه لوړ را پيل کيږي، تر ليکي کښته را ځي ، نوره ټوله تنه ئې تر ليکي لاندي لکه په شکل کي چي ئې وينی را ځي . کله چي بيرته ليکي ته را و رسيږي د يوه ميلي متر په اندازه تر ليکي را پورته کيږي لکه : ن ڼ

۲ـ ( ن او ڼ ) د کلمې په سر کي چي وروسته يو بل توری ور سره نښتی وي : د ( بـ ) په شان ليکل کيږي لکه : نـ ڼـ

۳ـ ( ن او ڼ ) د کلمې په منځ کي : د ( ب ) په شان ليکل کيږي لکه : ـنـ ـڼـ


۴ـ ( ن او ڼ ) د کلمې په پای کي : د ( ن ، ڼ ) تر مخ چي يو بل توری ور سره نښتی وي د يوازي ( ن او ڼ ) په شان ليکل کيږي .يو شی چي بايد هېر نه کړو هغه دا چي کوم توری چي تر مخه پوري نښتی وي هغه بايد پر کرښه نښتی وي او د ( ن او ڼ ) سر بايد تر کرښې لږ لوړ وي لکه چي وينی ئې : ـن ـڼ



ن

ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن

ناک



ن

ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن
ن

رنا

Ali Rasulzada

ترتیبونکی : عبدالعلي رسول‌زاده


# و

لاربنود :

(و) د (د) او (ر) په ډول دوه ډوله ليکل کيږي لکه :

۱ـ يواځي : (و) يواځي دا ډول ليکل کيږي چي لومړی د (و) سر پر ليکه د ښی خوا څخه کيڼي خوا ته کشوو ، بيا يې لوړي خوا ته پداسي حال کي چي ښی خوا ته د نيمي دايري په ډول بيرته ليکي ته را ولو او تر ليکي لاندي د (ر) په ډول دوام ور کوو لکه : و

۲ـ د کلمې په پای کي د بل توري سره نښتی : (و) د کلمې په پای کي د بلي توري سره نښتي د هغه يواځي (و) په ډول ليکل کيږي . يواځنی فرق يې د هغه څخه دا دئ چي د ښی خوا څخه يو بل توری ور سره نښتی وي لکه : ـو



و

و
و
و
و
و
و
و
و
و
و
و

ونـه

# هـ ـهـ ه ـه

لاربنود :

( هـ ) څلور ډوله ليکل کيږي لکه :

۱ ـ يواځي : (ه) د خط پر سر باندي د کيڼي خوا څخه د يوه کوچني ( د ) په ډول د کښتي خوا ته ليکل کيږي . بيا برته پورته کيږي او د پيل د ځای سره نښلي لکه :

ه


۲ ـ د کلمې په سر کي : (هـ) چي د کلمې په سر کي وي لومړی د خط پر سر د ( د ) په شان ليکل کيږي . وروسته قلم د پورته خوا ته د ليکل سوي ( د ) سره نښلي او برته د کښتي خوا ته د خط سر ته را رسيږي او کيڼي خوا ته لږ دوام پيدا کوي لکه :

هـ

۳ ـ د کلمې په منځ کي : کله چي د دوو تورو په منځ کي را ځي پر ليکه (کرښه) کيڼي خوا ته‌لږ ځي بيا تر کرښي کښته را ځي ، بيا بيرته د کرښي خوا ته تا پورته کيږي او تر کرښي را لوريږي او بيرته کرښي ته را ځي او بيته پر کرښه کيڼي خوا ته ځي : ـهـ .

۴ـ د کلمې په پای کي : د ښی خوا څخه پر کرښه کيڼي خواته ځي او بيا لږ لوړي خوا ته پورته کيږي . بيا په دغه لوړه برخه پوري يو حلقه غوندي پنډک نښلي چي دواړو خواوو ته لږ ځای خالي پرېښودل کيږي لکه : ـه . د ( ا ، د، ډ ، ذ ، ر، ړ ، ز، ږ ، ژ او و ) سره نښتی نه‌راځي .

د مشق او تمرين لپاره د دوهمي پاڼي څخه کار واخلئ !



ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

ﮪ

هیلی

٥

# اوږه

٥

٥

٥

٥

٥

٥

٥

٥

٥

٥

٥

اوږه

# ي

لار ښود :

معروفه (ي) : دا (ي) په کلمه کي په ۴ ځايو کي راځي لکه :

۱ ـ د کلمې په سر کي له بل توري سره نښتې : د کلمې په سر کي د (ب) په ډول ليکل کيږي لکه : ــيــ

۲ ـ د کلمې په منځ کي : د کلمې په منځ کي د (ب) په ډول ليکل کيږي لکه : ــيــ

۳ ـ د کلمې په پای کي : (ي) د کلمې په پای کي دوه ډوله ليکل کيږي :

ـــ د کلمې په پای کي د (ا ، د ، ډ ، ذ ، ر ، ړ ، ز ، ږ ، ژ او و ) سره نه نښلي . د کومو توړو سره چي نښتې نه راځي دا ډول ليکل کيږي چي سر يې د چپه (د) په ډول تر ليکي څه لوړ پيل کيږي ، ليکي ته چي را ورسيږي ښى خوا ته تر ليکي څه کښته ځي وروسته کيڼې خوا ته را ګرځي بيرته ليکي ته را پورته کيږي . تر ليکي لږ لوړ يې وروستۍ برخه ختميږي لکه : ــي

ـــ د کلمې په پای کي د نورو ټولو تورو سره نښتې راځي مګر په لږ توپير لکه:بېله (ک ، ګ او ل) څخه د نورو ټولو تورو سره د ليکي پر سر د بل توري سره نښلي او وروسته تر ليکي لاندي ځي او کله چي بيرته ليکي ته را پورته سي پر ليکه ختميږي مګر د (ک ، ګ او ل) سره نښتې د يوائې (ي) په ډول تر ليکي څه لوړه ليکل کيږي لکه : لي

۴ ـ د کلمې په پای کي يوازي : د ليکي څخه لږ لوړه پيل کيږي او وروسته تر ليکي لاندي ځي او وروسۍ برخه يې تر ليکي د نيم ملي متر په اندازه را پورته کيږي لکه : ــي



ي

ي

ي

ي

ي

ي

ي

ي

ي

ي

ي

ي

# ی

لاربنود :

ملینه (ی) : د کلمې په سر او منځ کي نه سي را تلای او یوازي د کلمې په پای کي یا یوازي او یا د نورو تورو سره نښتي لیکل کیږي لکه :

۱ ـ د کلمې په پای کي یوازي : کله چي د کلمې په پای کي یوازي راځي لږ څه د لیکي څخه لوړه شروع کیږي او بیا تر لیکي لاندي دوام کوي او اخرنۍ برخه یې تر لیکي د نیم ملي متر په اندازه را پورته کیږي لکه : ــــیـ

۲ ـ (ی) د نورو تورو سره نښتي پر دوه ډوله لیکل کیږي لکه :

ـ د (ک ، ګ یا ل) سره چي نښتې راځي نو د یوازي (ی) په ډول وي لکه : ــلی

ـ د نورو تورو سره چي نښتي لیکل کیږي ، دا چي هغه توري پر لیکه نښتي وي نو (ی) هم لږ څه را کښته کیږي او د لیکي څخه پیل کیږي لکه : ــــیـ

ی

# سړی

ی
ی
ی
ی
ی
ی
ی
ی
ی
ی
ی

# ې

لار ښود :

مجهوله (ې) : مجهوله (ې) په کلمه کې په درو ځايو کې را ځي . د کلمې په پيل کې نه راځي . مګر که يې ترمخ (د ، ډ ، ذ ، ر ، ړ ، ز ، ږ ، ژ يا و ) راسي نو داسي ليکل کيږي لکه د کلمې په سر کې چې را غلې وي لکه : ډېر

١ ـ د کلمې په منځ کې : دغه (ې) د کلمې په منځ کې د (ب) په ډول راځي لکه : ـېـ

٢ ـ د کلمې په پای کې يوازې : کله چې يوازې راځي لږ څه د ليکې څخه لوړه شروع کيږي او بيا تر ليکې لاندې دوام کوي او اخرنۍ برخه يې تر ليکې د نيم ملي متر په اندازه را پورته کيږي لکه : ې

٣ ـ په پای کې د نورو تورو سره نښتې : د نورو تورو سره نښتې پر دوه ډوله ليکل کيږي لکه :

ـ د (ک ، ګ يا ل ) سره چې نښتې راځي نو د يوازې (ې) په ډول وي لکه : لې

ـ کله چې د نورو تورو سره نښتې ليکل کيږي دا چې هغه توري پر ليکه نښتې وي نو (ې) هم لږ څه را کښته کيږي لکه : ـې

ڀ

شيدڀ

ڀ
ڀ
ڀ
ڀ
ڀ
ڀ
ڀ
ڀ
ڀ
ڀ
ڀ

# ې

لار ښود :

ثقيله (ې) ښځينه: دغه (ې) د کلمې په سر او منځ کې نه راځي بلکې يوازې د کلمې په پاى کې يا يوازې او يا نښتې راځي.

۱ ـ د کلمې په پاى کې يوازې: د کلمې په پاى کې چې يوازې راځي لږ څه د ليکې څخه لوړه شروع کيږي او بيا تر ليکې لاندې دوام پيدا کوي او اخرنۍ برخه يې تر ليکيلږ را پورته کيږي لکه: ــــې

۲ ـ دغه (ې) د نورو تورو سره نښتې پر دوه ډوله ليکل کيږي لکه:

ــ د (ک، ګ يا ل) سره چې نښتې راځي نو د يوازې (ې) په ډول وي لکه: ــلې

ــ د نورو تورو سره چې نښتې ليکل کيږي دا چې هغه توري پر ليکه نښتې وي نو دغه (ې) هم لږ څه را ښکته کيږي لکه: ــــېـ

ی ملالی

ی

ی

ی

ی

ی

ی

ی

ی

ی

ی

ی

# ئ

لار ښوود :

ثقیله فعلي (ئ) : دغه (ئ) د (ی) په ډول د کلمې په پای کې یا نښتې او یا یوازې راځي

.

۱ ـ د کلمې په پای کې یوازې : کله چې د کلمې په پای کې یوازې راځي لږ څه د لیکې څخه لوړه شروع کیږي او بیا تر لیکې لاندې دوام کوي او اخرنۍ برخه یې تر لیکې لږ را پورته کیږي لکه : ئ

دغه (ئ) چې د (د ، ډ ، ذ ، ر ، ړ ، ز ، ږ ، ژ او و) سره راځي د یوازې (ئ) په ډول وي

لکه : وړئ

۲ ـ دغه (ئ) د نورو تورو سره نښتې پر دوه ډوله لیکل کیږي لکه :

ـ د (ک ، ګ یا ل) سره چې نښتې راځي نو د یوازې (ئ) په ډول وي لکه : لئ

ـ د نورو تورو سره چې نښتې لیکل کیږي دا چې هغه توري پر لیکه نښتې وي نو دغه (ئ) هم لږ څه را کښته کیږي لکه : ـئ

ئ

ولوئ

ئ
ئ
ئ
ئ
ئ
ئ
ئ
ئ
ئ
ئ
ئ